# د تخلیق په وخت اور اور لمحې

رحمت شاه سائل

سره د دې چې ما د خپلو ځنې نظمونو سره په خپلو کتابونو کښې د هغې د منظر او پس منظر په باره کښې هم دغسې ځنې نثري نوټونه لیکلي دي. دا په دې چې لوستونکي یا د ځان سره په ښۀ ډول ملګرے کړم او یا زۀ د لوستونکي سره ملګرے شم. خو بیا هم چې په رساله کښې د خپلې شاعرۍ سره په خپله دغه وضاحت کوم نو د احساس د شدت د یو اوره ضرور تېرېږم. ما ټول عمر د لفظونو سره لوبې کړې دي خو د لفظونو د حرمت سره د لوبې ګناه مې چرې نۀ ده کړې. خارج زما په داخل کښې او د اخل مې په خارجې کښې لکه د لازم او ملزوم د یو بل سره اشنا دی. خو ځۀ موده کېږي چې زما خارج او داخل د یو بل نه یا خو بېګانه شوي دي او یا دومره په خپل خپل ځائے سخت زړي شوي چې د یو بل نه لکه چې کرکه ورځي. سوال دا دے چې یو انسان دومره بې کرکې هم کېدے شي چې د دومره غېر انساني خارج سره دې هم اهنګي پېدا کړي؟ بیا زما احساس د یو شاعر هم دے او د اظهار ژبه مې هم شاعري ده. ما به په خپل یقین داسې ګڼله چې زۀ یا مونږ ټول پښتانۀ شاعران د غم دوران او غم جانان ژړا او ماتم په سندرو کښې کولے شو خو هغه د چا پېغلې ټپه ده چې ئې وئیلي دي:

د تورو جنګ وے چې ما وکړے
د نصیب جنګ دے وارخطا ولاړه یمه

مونږ ته د خوشحال د مغل والۍ او شاعرۍ روایت پاتې ؤ چې د پلرنې نیکنې کلاسک منصب نه لاس وینځل وو، د مغل په بندي خانه کښې لکه د پښتونخوا د بې نوا بلبل چغار او په چغار کښې د فني رومان داسې نغمګي چې معنې او مفهومونه ئې لکه د اختر د ټال ټالۍ ټالۍ ارلیچې برلیچې کېږي او غږ ترې راخیژي چې:

پښتنې جونه دې زلفې باد ته نیسي
چې شمال ئې بوئي راوړي په رنتمبور کښې

مونږ ته خو د باچا خان د ازادۍ د تحریک د نغمو شور او قېدوبند د زولنو شرنګ پاتې ؤ چې د مخفي نه واخله تر جلیا، تاج محمد خاموش، فدا استاد او شاد محمد مېږي پورې د پېرنګي د زور او ظلم په ضد ئې د مزاحمت او ازادۍ سندرې له سرخنه کوله او د ادب د دغه روایت ناوې ئې د ازادۍ په ډولۍ کښې زمونږ تر جونګړې راورسوله او مونږ ورته د ملالې د ټپې ژبه ورکړه. مونږ په خپله د یو بل قېد و بند بندیوان او یو بل قسم ظلم سره مخ شو خو مونږ کۀ دغه ظلمونه زغمل نو خپل قام وطن او ټولنې د قامولۍ د احساس په سبورې هم ساتلو. دا خو مو په خوب او خیال کښې هم نۀ راتلۀ

چې دغه ظلم به داسې جامې هم اغوندي چې مونږ به ئې وينو خو څهرې او شکلونه به ئې نۀ شو شمارلے. د دې نوي ظلم د نوې بلا خدائے خبر څومره سرونه او څومره شکلونه دي او څومره باريک جديديت لرې چې په يو تصوير کښې بل او په بل کښې بل پټ پروت دے. مونږ چې پرې سترګې ورښخې کړو نو يو بل تصوير راته وښکاري خو چې ترې نظر واړوو او په دوېم ځل ور وګورو نو هغه تصويرونه پکښې ورک شي او نور پکښې راښکاره شي. دغه تصويرونه لکه د بلاګانو ګڼ سرونه او شکلونه، زمونږ نه د فني اظهار ژبه وتروړي او يوې داسې حيرانۍ ته مو مخ کړي چې د لفظونو لښکرې مو د لاسه ووځي او داسې منتشرې شي چې را ټولول ئې په شاعرانه احساس پورې پچموزے کوي.

زۀ خپله بلا مُوده د دې احساس د شدت په اور کښې پاتې شوم د خپل ځان ائينې ته ګونګ سونګ حيران حيران ولاړ پاتې شوم، کوئټې، کابل، وزيرستان، مومند، باجوړ، سوات، دير او بونير ته مې ډېر ډېر وکاتۀ، وينې وې خو رنګ پکښې نۀ ؤ، شايد وينې وې خو خبرې پکښې نۀ وې، هن بې رنګې وه پکښې او خاموشي وه پکښې. په دغسې بې رنګه او بې اوازه تماشه کښې به کۀ زما د سندرې رنګ بې رنګه او اواز بې اوازه وي نو دا به په حقيقت کښې د خارج هغه عکس وي کوم چې به کۀ هر څومره د کېمرې تصوير نۀ وي خو فني رنګ به ئې تته ضرور وي، هغه لارې، هغه پُولې پټې چې به د رنګونو او ګلونو نه ډک وو او ورمو به ئې بنده ته د جنت احساس ورکوو اوس پکښې د بارودو لوګي

او بوئي ؤ، خو د دې هر څۀ باوجود يو داسې سکوت او خاموشي وه، داسې بې حسي او بې عرضي وه چې د شعر د تصوير خاکه ئې جوړولې شوه خو رنګ او رنګ ئې نۀ شوه ورېخښلې چې ناڅاپه يو الغاؤ تلغاؤ جوړ شو او چې سرکونه د بې وسۍ د لښکرو نه ډک راروان شو نو ما په مسلسل ډول څلور نظمونه وليکل. زما احساس د سوات د هغې ځلمي ؤ، د هغه بوډا ؤ، د هغې مور ؤ، د هغې خور ؤ او د هغه ماشوم ؤ چې خپل کور کلي ته ئې په غټو غټو کتل، خپلو غرونو، سيندونو، چينو او چنارونو ته ئې کتل، ډک کور غوا، بيزه، بوډا او معذوره ترې پاتې وو او دے لکه د لېونو په يو نامعلوم مزل را روان ؤ او په حسرت ئې يوه سندره د ځان سره وئيله.

نۀ وم خبر چې د چينو او چنارونو وطن
وطن به ترږے وي د داسې وينو
نۀ وم خبر چې د فطرت د تصويرونو وطن
وطن به ترږے وي د داسې وينو

نۀ وم خبر چې به د غرۀ په چړ روانې چينې
نورې سندرې د فطرت نۀ وائي
نۀ وم خبر چې به د ژوند نه بدګمانه چينې
نورې نغمې د محبت نۀ وائي
نۀ وم خبر چې د ګل رنګو منظرونو وطن
وطن به ترږے وي د داسې وينو

نۀ وم خبر چې نرګسې سترګې بيمارې ځوانۍ
به په سرو وينو کښې ډوبېږي داسې
نۀ وم خبر چې به د خپل ځانه خمارې ځوانۍ

تندک به خوري په سر به لوېږي داسې
نۀ وم خبر چې دا د مينې د خوبونو وطن
وطن به تېرې وي د داسې وينو

نۀ وم خبر چې د هر يو بُتکي په شا به راته
د محبت په ځائے قاتل ولاړ وي
نۀ وم خبر چې په تصوير د مسيحا به راته
زما نه روح وړي عزرائيل ولاړ وي
نۀ وم خبر چې د نظر د تندرونو وطن
وطن به تېرې وي د داسې وينو

نۀ وم خبر چې د جنت وطن خوبونه به مې
لېونتوبونه شي زما د پاره
نۀ وم خبر چې د جنت د باغ ګلونه به مې
سرۀ سرۀ اورونه شي زما د پاره
نۀ وم خبر چې د زړګو د ارمانونو وطن
وطن به تېرې وي د داسې وينو

زۀ چې د وړومبۍ سندرې د حېرانۍ د ائينې نه بهر راوتم نو بيا مې لارې کوڅې او سړکونه، پنډوکي په سر په منډو وليدل او زۀ د ټولو زړونو په پُولو پټو او پرهر پرهر ورشوګانو وګرځېدم او بيا مې د دوېمې سندرې سرنامه شروع کړه. په غږ کښې مې د ټولو وينې وينې زړونو درزا شامله شوه، هغه لکونه خلق کۀ د سوات وو کۀ د بونېر او کۀ د دير وو، ما د يو سوات په نوم په خپله سندره کښې راټول کړۀ. زۀ د هغوي او هغوي زما د لارې ملۀ شو، زۀ د هغوي او هغوي زما د سندرې اوازونه شو.

لاس د ژوندون راته د سپين کاغذ په شان پاتې دے
نصيب په لارو کوڅو وشيندلو
سوات خو جانانۀ او زمونږه نه جانان پاتې دے
نصيب په لارو کوڅو وشيندلو
مونږ د چينو خلق د دنګو چنارونو خلق
بې اوبو ناست يُو په غرمو ناست يُو
مونږ د ګلرنګو ګل دامانو ګلزارونو خلق
اوس د نصيب په تماشو ناست يُو
د چانه سر د چانه زړۀ د چانه ځان پاتې دے
نصيب په لارو کوڅو وشيندلو

نهر کۀ هم وو د سوات حُسن به ماړۀ ساتلو
اوس کۀ ماړۀ هم يو نهر ګرځو
کۀ به زاړۀ هم شو د ژوند خيال به واړۀ ساتلو
سپوري مو وبائيلل په نمر ګرځو
مونږه تقدير ته تقدير مونږه ته حېران پاتې دے
نصيب په لارو کوڅو وشيندلو

مونږ د ساده صداقتونو لېوني لاروي
نۀ په کوم چل او نۀ په ول پوهېدو
په ښتۀ لوئے کلي کښې کړو خدائے د ځان ځاني لاروي
نۀ خو په ساز اونۀ په غل پوهېدو
اوس مو په لاسو کښې تنې تنې ګرېوان پاتې دے
نصيب په لارو کوڅو وشيندلو

سوات خو درمان ؤ خدایه داسې لېونے ولې شو
چــې ئـــې د شـــونډو نـــه لمبـــې خېـــژي
لـوګـے لـوګـے ولـې شـو داسـې سـېـېلنے ولـې شـو
د هــــر اندامـــــه ئـــې زبېــــرګـے خېــــژي
هغـه درمـان راتـه د بـو بـلا پـه شـان پـاتې د ے
نصیب په لارو کوڅو وشیندلو

سوات خو ګلاب ؤ او سینه ئې د ګل پاڼو بستر
اوس پـــرې تېـــرۀ تېـــرۀ ازغـــې ولاړ دي
هغـه بسـتر کـۀ راتـه خدائے د تیـږو کـاڼو بسـتر
پکښــــــې خوبونـــــه لېــــوني ولاړ دي
هر کلے، هر کور، هر بازار لکه زندان پاتې د ے
نصیب په لارو کوڅو وشیندلو

دغـه سـندره د چینـو او چنـارونو د وطـن نـه د راروانو خلقو د قدمونو په "لې" د هغوي د زړونو په درزا کښې په ملاکنډ او امبېلا، سُرکاوۍ، پلۍ او نـورو کنـډاوونو را واورېـدۀ او پـه لارو کوڅـو، کورونـو، حجـرو، بېټکونـو او کېمپونـو کښـې د شیندلو شـوو مسـافرو پـه سـترګو، پـه مخونـو او زړونو لکه د پښتني لوپټې وغوړېدۀ، لکه د پښتون څادر، د هرې خور، هرې مور مخې ته دېوال شو، ماته دغه وخت د لکونو پښتنو میاندو د تصویرونو نه یو تصویر جوړ شو، دغه د سوات، دیر او بونېر د مور د عظمت تصویر ؤ. دا هغه تصویر ؤ چې زړۀ ئې د سوات، بونېر او دیر نه ډک ؤ چې زړۀ ئې د دغو لکونو خلقو نه ډک ؤ خو بیا هم پکښې دومره ځائے ؤ چې دا ټوله دنیا پکښې ځائېده.دا د پښتونخوا مور وه، دا د دنیا مور وه او زما د تخلیق مـور وه چې ما ورسره په ټوله لار، پـه هره کوڅه او کـور کـور کښې خبرې کـولې او د هغې پـه مـخ روانـو اوښکو راتـه د ټول زړۀ چاؤدون قصې کـولې، ټولې قصې چې مې واورېدې او د هغې پـه اوښکو لمبېدلي تصـویر تـه مې وکاتۀ چې اوس هم پکښې مُسکیتوب محسوس کېدۀ نو د خُلې نه مې وواتۀ چې:

زما د سوات مـورې خـوږې مـورې خـوږمنې مـورې

زمــا د زړۀ پـــه هـــر پرهـــر راټوکېـــدلي غنـــدل
چې کله هم څړیکې او څانګې د دړدونو وکړي
پـه څوکـو څـانګو ئـې غـوټۍ جـوړې شـي پېغلـې غوټۍ
او پـه نـرو شـونډو مُسـکا د سـرو ګلونـو وکـړي

په دې مُسکا کښې ماته ستا د خیـال تصـویر جـوړ شي
زمـا د اوښـکو نـه زمـا پـه مـخ زنځیـر جـوړ شـي
زمـا د سـوات مـورې، خـوږې مـورې، خـوږمنې مورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

سـتا تصـور پـه صـوابۍ کښـې پـه مـردان کښـې وکړم
ستا تصـور د راڼیـزو پـه هر مېدان کښـې وکـړم
سـتا تصـور پـه چارسده او پېښـور کښـې وکـړم
سـتا تصـور چې پـه بـائزو او اشـنغر کښـې وکـړم

شپه او ورځ تېره شي په منډو منډو ستړے شمه
په تصور کښې لکه بُت شم لکه مړے شمه
زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې
مــــــــــــــــورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

منم چې تاته هر پښتون په زړۀ کښې کور
درکـــــــــــــــــړے
منم چې تا سحر ماښام پورې کوې په سترګو
منم کۀ تۀ د پښتنو کوڅو کښې هم ناسته ئې
زړۀ له دې وړې او ستا نظر تصوير کوې په
ســــــــــــــــترګو
خو يه زما د سوات خوږمنې قدرمنې مورې
زما زړۀ وران دے ستا د خيال سره غمژنې
مــــــــــــــــورې
ستا نه د سوات په خاوره ستا د ټول ژوندون
يادونـــــــــــــــــه
لکه په غنو د رېښې رېښې ګرېوان پاتې دی
ستا د ساه ساه او د قدم قدم د ياد سرمايه
لکه تازه ګلونه د رېحان پاتې دي
زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې
مــــــــــــــــورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

زما د سوات مورې د ټولو پښتنو مورې
پوهېږم ستا زړۀ د جهان د غم مرکز دے مورې
تۀ څۀ د ژوند د حادثو نه نابلده نۀ ئې
درد او غم ستا په حوصلو پورې عاجز دے
مــــــــــــــــورې

خو سوات چې ماته هم چې ياد شي نو ژړا راشي
نو ستا په شونډو به په کوم هنر خندا راشي
زما د سوات مورې خوږې مورې، خوږمنې مورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

ستا نه به يه مورې په څۀ هيرې شي څنګ هېرې شي
د هغې غرونو سندر بولې سندرغاړې چينې
د جينکتوب نه د ځوانۍ او کوربن والي پورې
تاته روانې او ستا سترګو ته ولاړې چينې

بغېر له تانه کۀ تا ژاړې نۀ نو څۀ به کوي
چې شاړې شاړې شي تا غواړې نۀ نو څۀ به کوي
زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې
مــــــــــــــــورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

زما د سوات مورې زما د ملاکنډ د لاندې
کۀ تاله ټول ښائست د پاتې پښتونخوا درکړم
کۀ ښائستونه خنداګانې د همه پښتنو
کۀ کړم راټولې ورسره همه دنيا درکړم
ستا نه به هېر ژوند د چينو او چنارونو نۀ کړم
تا به رابېله د اخترو د ټالونو نۀ کړم
زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې
مــــــــــــــــورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

مونږ چې به اورې له، ميا دم او مرغزار ته تللو
مونږه به ستا د لاس ګل کړې کميسونه راوړل
ملم جبه وه کۀ کالام او کۀ بحرين، مدين
مونږ به بچو له ستا په ګوتو جوړ شالونه راوړل

اوس مودې وشوې، بازارونه، دوکانونه وران دي
ګوتې ولاړې دي، د ګوتو نشانونه وران دي
زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې
مورې
د زړۀ په کوم پرهر کښې ځائے درکړم غمژنې مورې

اوس چې په سوات وريځې کله هم ګټان ګټان شي
لکه بارډو چې ډزېدلي وي نظر خوږوي
اوس په باران کښې هم اکثر د وينو سرۀ شامل وي
احساس په سرو لمبو کښې وريت کړي د زړۀ
سرخوږوي

مورې د سوات د اسمان، ګل ياد خوبه داسې نۀ ؤ؟
مورې د سوات د سردرو باد خو به داسې نۀ ؤ؟
دا په سوات څۀ وشو، يه مورې قدرمنې مورې
دا چا پرې کوډې روډې وکړلې غمژنې مورې

يه مورې ستاسو د زرګونو او لکونو ميانډو
سلګۍ په کومه لاړې سرې اوښکې په کومه
لاړې؟
غوټ غوټ ئې ولې هلته پرې نۀ کړل د خلقو زړونه
هغه د تورو شان تېرې اوښکې په کومه لاړې؟
مورې د سوات بچي د ستاسو نه باغيان ولې
شو؟
چې زړونه وران کړي په هغې لارو روان ولې شو؟
زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې
مورې
د زړۀ په کوم پرهر کښې ځائے درکړم غمژنې مورې

دنيا لسمه مۍ، ميانډو ته بخښلې ورځ ده
دا کال په دغه ورځ زما د همه سوات ميانډې
د خپل جنت نه راوتې په سرو غرمو راتلې
په ټيټه ملا په منډو منډو د يو بوج لاندې
دا ورځ د سوات لکونو ميانډو ته بخښل
غواړي
دنيا دې ومنې چې دا قصه ليکل غواړي
د دې لکونو ميانډو عزم او عظمت د دنيا
په ميانډو هم په داسې ورځ باندې وېشل
غواړي

د سوات ښائست د سوات رنګونه پښتانۀ
رنګونه
د دې دنيا هر يو نظر ته رسول غواړي
د سوات د مور زړۀ په هر زړۀ باندې کرل غواړي
د دې ګلونه کال په کال غنچه کول غواړي
د دنيا هرې مور له دا غنچه لېږل غواړي

کۀ داسې وشي نو زما د سوات د دغو ميانډو
حق به ادا شي او د هرې مور منلے عظمت
به حق لري چې د همه نړۍ همه قامونه
"د عظمت دغه ورځ" په دغه ورځ د دوي په نوم کړي

اے د قلم او د خبر او د اواز يارانو
د سوات د ميانډو د حرمت او د عظمت په خاطر
زما د درده ډک اواز دنيا ته ورسوئ
چې فېصله وکړي او دغه ورځ زما د ميانډو
روح او وجدان ته او د "لوئې مور" فطري عظمت ته
په ډېره مينه محبت او درناوي وسپاري

دغه اواز د يو پښتون غمژن شاعر اواز دے
چې غم او درد دے پکښې سوز دے پکښې ساز دے پکښې
زۀ هم د ټول انسانيت د تصور غړے يم
زما اواز څۀ دے د دې تصور ناز دے پکښې

زۀ به د دغسې کېدو نه پس ګڼلے شمه
چې زۀ د خپل جهان انصاف ته رسېدلے شمه
زۀ ځان ورک نۀ ګڼمه دغسې کولے شمه
زۀ به د فخر سره ناز سره وئيلے شمه

زما د سوات مورې، خوږې مورې، خوږمنې مورې
د زړۀ په کوم درد کښې دې ځائے کړمه غمژنې مورې

ما چې د سوات مور ته خپلې پېرزوئنې پېش کړې نو هغې ماته د مورولۍ د شفقت سره مهربانه نظر راواړو او په مُسکو شونډو ئې دعوت راکړو، وې راځه، زۀ تاته د نوې مور قصه کول غواړم، هغې زۀ يو کور ته بوتلم، هلته ئې راته د ګوتې په اشاره ووې، دا نوې مور ده او دغه بچے ئې خوا ته پروت دے پنځۀ ګېنټې مخکښې دے دنيا ته راغلے دے د جنګ او امن د معنو نه بې خبره دے خو د دې کور مهربان ورله امن نوم ايښے دے، بيا ئې يوې حجرې ته بوتلم چې اوس هغه هم کور ؤ، د دې دولس ګېنټې کېږي چې دنيا ته راغلې ده او نوم ئې ورله مينه ايښے دے، بيا ئې يو کېمپ ته بوتلم په يو تمبو ئې وردننه کړم، د هغه ماشوم د مور په مخ هم د خپلې لوپټې پېڅکے خور ؤ، دا ئې ووې دا د دريو ګېنټو مېلمه راغلے دے او نوم ئې محبت دے. دا تعداد اوس سوونو ته رسېدلے دے. ما بله سندره د سوات د ماشوم په نوم وليکله چې پکښې د دير او بونېر د ماشومانو تصوير هم محفوظ دے.

دغه ماشوم چې نوم ئې امن دے، د چا مينه او د چا محبت زما د وطن د پاره د نوي ژوند، نوې مينې، نوي امن اعلان دے او دغه اعلان زما د سندرې روح دے.

## د سوات، د دير او د بونېر د سردرو ګلونو

د ژوند د دې تماشې دا ادا به څوک وژني؟
د دې ادا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!

په داسې حال کښې چې مرګ لوبې په سرونو کوي
د نوي سوات نرګس په سره سيمه کښې وټوکېدل
په داسې وخت کښې چې هر سبورے د قاتل سبورے دے
د ژوند د څړکو څُوکو سرۀ ګلونه وخندول

د ژوند د دې تماشې دا ښکلا به څوک وژني؟
د دې ښکلا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!

دغه د نوي نوي سوات، نوي پېدا وارثان
چې ئې په وينو وينو، شونډو کښې ګلونه خاندي
دغه د حُسن او د مينې د نازونو بچي
چې ئې په سترګو کښې چينې او چنارونه خاندي

د ژوند د دې تماشې دا ځلا به څوک وژني؟
د دې ځلا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!

زرګونه کاله پس زمونږ د زندګۍ د کتاب دوي راته پاڼه په وړو ګوتو راواړوله د پروني تاريخ سبق ئې د نن شونډو ته کۀ

د سبانۍ خاموشۍ ژبه ئې ګويانه کړله

د ژوند د دې تماشې دا دعا به څوک وژني؟
د دې دعا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!

دا په خېمو کښې او په لارو کښې پېدا ماشومان
د ټولو سترګې دي هوښيارې او بېدارې سترګې
ډير پکښې هم ليدے شي، سوات او بونېر هم
ښکارې
ګلاب ګلاب شونډې نرګس هسې بيمارې سترګې

د ژوند د دې تماشې دا خطا به څوک وژني؟
د دې خطا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!

دا بچي څوک دي، دا د ټولو پښتنو بچي دي
دا د ښاغلو پښتنو د مېلمنو بچي دي
دا د تاريخ د جوړونکو مېړنو بچي دي
دا د فطري امن د ميانډو لېونو بچي دي

د ژوند د دې تماشې دا رڼا به څوک وژني
د دې رڼا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي

دوي مو قاتلې سترګې بيا ژوندون ته واړولې
دوي مو اسرې د زندګۍ زړون ته واړولې
دوي زمونږ مينې د ښائست مضمون ته واړولې
دوي مو سندرې سباني پښتون ته واړولې

د ژوند د دې تماشې دا ګناه به څوک وژني؟
د دې ګناه وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!

پښتنو دا ماشومان عام ماشومان ونۀ ګڼئ
چې دوي د امن د ژوندون نوے اعلان کړے دے
دا په رېګونو کښې په سُور نمر ټوکېدلي ګلاب
دوي په رښتيا په مونږ د نوي ژوند احسان کړے دے

د ژوند د دې تماشې دا صدا به څوک وژني؟
د دې صدا وژل اسان نۀ دي اسان نۀ دي!